

# د کوویډ 19 ناروغۍ آزمېښت یا معاینه

که تاسو د کوویډ 19 ناروغۍ نښې نښانې درلودې او یا مو له داسې چا سره اړیکه درلوده چې د هغوی د کوویډ 19 پایله مثبته وه، نو تاسو باید د کوویډ 19 معاینه وکړئ.

## په کوم ځای کې تاسو د کوویډ 19 معاینه ترسره کولای شئ؟

**ستاسو د روغتیا پالونکی** او یا هغه چمتو کوونکی چې **ستاسو بیمه اخلي.**

**په خپل موټر کې یا د معاینې ګرځنده** سایټونه.

**ټولنیز کلینیک، روغتیایي مرکز یا** درملتون.

## لګښت

**که تاسو د کوویډ 19 نښې نښانې لرئ او یا مو له هغه چا سره اړیکې لرلې چې د کوویډ 19 پایله یې مثبته وه، ستاسو معاینه باید وړیا وشي.**

- **که تاسو بیمه یاست،** نو ستاسو د بیمې کمپنۍ باید ستاسو د معاینې لګښت ورکړي. لومړی اړیکه ونیسئ او پوښتنه وکړئ که چېرته نور لګښتونه هم وي.
- **که تاسو بیمه نه یاست،** ځینې ګرځنده سایټونه، ټولنیز کلینیکونه او روغتیایي مرکزونه په وړیا ډول د کوویډ 19 ناروغۍ معاینې ترسره کوي. ښایي نور چمتو کوونکي هم له تاسو سره کار وکړي تر څو ستاسو معاینې ته پوښښ ورکړل شي.

## څه ډول باید معاینه وکړئ

**خپل چمتو کوونکي** او یا هغه شمېرې ته **زنګ ووهئ** چې ستاسو د بیمې د کارت په شا لیکل شوې ده.

- **له 2-1-1 سره اړیکه ونیسئ.**
- د واشنګټن د روغتیا وزارت (Washington State Department of Health) د معایناتو د موقعیتونو وېب **پاڼې ته مراجعه وکړئ:** doh.wa.gov/TestingLocations.

د لا ډېرو معلوماتو له پاره **DOH.WA.GOV/Coronavirus** ته مراجعه وکړئ.

په یوه بل فارمټ کې د دغه سند د ترلاسه کولو د غوښتنې له پاره له 0127-525-800-1 سره اړیکه ونیسئ. کاڼه او هغه پېرودونکي چې د اورېدو ستونزه لري، کولای شي چې له 711 (Washington Relay) سره اړیکه ونیسي او یا د civil.rights@doh.wa.gov لارې برېښنالیک ور واستوي


DOH 820-100 September 2020 Pashto



# د کوویډ 19 ناروغۍ آزمېښت یا معاینه

## ستاسو د معاینې د کتنې وخت

### 1 ستاسو د لیدنې وخت وګورئ.




په موټر کې د خدمت سایټونه او ټولنیز کلینیکونه به ستاسو پوښتنه وکړي:


- **لومړني معلومات** لکه ستاسو نوم او د اړیکو شمېرې تر څو تاسو ته د معاینې پایله ووایي.
- **ستاسو د هویت او بیمې کارتونه.** له تاسو څخه به ونه غوښتل شي چې دا ورته وښیئ، خو هغوی به یې وغواړي.

هغوی به ستاسو د کډوالۍ د وضعیت په اړه **پوښتنه ونکړي**. ستاسو معلومات به یوازې د روغتیا برخې او یا ستاسو د روغتیا له ځایي دیپارټمنت سره شریک شي.

### 2 معاینه وکړئ.



چمتو کوونکی به له تاسو څخه یوه نمونه واخلي. هغوی په معمول ډول ستاسو له پزې څخه کوم څه را اخلي او یا یې تاسو پخپله را اخلئ.



ستاسو نمونه وروسته د معاینې له پاره یوه لابراتوار ته استول کېږي.

### 3 په کور کې پاتې شئ.



ډاډ ور کړئ چې تاسو د خپلې معاینې له پایلې څخه تر خبرېدو پورې په کور کې پاتې کېږئ او له نورو څخه واټن ساتئ.

د کوویډ 19 ناروغۍ د معاینې په اړه د نورو معلوماتو له پاره **doh.wa.gov/Testing** ته مراجعه وکړئ